## د رقابت (سیالۍ) څخه د ملاتړ د قانون د توشیح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه : (۳۰)
نېټه : ۱۳۸۸/۱۱/۵

لومړۍ ماده :

د افغانستان داساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې او سلمې مادې د حکم له مخې، له سیالۍ څخه د ملاتړ قانون چې د ملي شورى د مجلسونو د ګډ هیئت د ۱۳۸۸/۱۰/۱ نېټې د (۱۵۳) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۵) فصلونو او (۳۵) مادو کې تصویب شوی دی،توشېح کوم.

دوه یمه ماده :

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ اوله قانون اود ملي شوري د

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشیح قانون حمایت از رقابت

شماره : (۳۰)
تاریخ : ۱۳۸۸/۱۱/۵

مادهٔ اول:

به تأسی ازحکم فقرهٔ (۱٦) مادهٔ شصت وچهارم و مادهٔ صدم قانون اساسی افغانستان، قانون حمایت از رقابت را که بر اساس مصوبهٔ شماره(۱۵۳) مؤرخ ۱۳۸۸/۱۰/۱ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی بداخل (۵) فصل و (۳۵) ماده به تصویب رسیده، توشیح می دارم.

مادهٔ دوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون و مصوبهٔ

مجلسونو د ګډ هيئت له مـــصوبې سره يوځای دې په رسمي جريـــده کې خپورشي.

هيئـــــت مخـــــتلط مجلـــــسين شورای ملـــی درجريـــدهٔ رســـمی نشر گردد .

**حامد کرزی**
**دافغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**حامد کرزی**
**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوريت

ملي شوري

مصوبه

له رقابت (سيالۍ) څخه د

ملاتړ قانون

پرله پسې ګڼه: (۱۵۳)

د تصويب نېټه: ۱ /۱۳۸۸/۱۰

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو غونډو له پنځو پنځو غړو څخه جوړ شوی ګډ هيئت له رقابت (سيالۍ) څخه د ملاتړ قانون په پنځو فصلونو او پنځه دېرش مادو کې په ۱۳۸۸ کال د مرغومي مياشتې په لومړۍ نېټه فيصله کړ.

د ګډ هيئت رئيس

عزيز احمد نادم

د ګډ هيئت مرستيال

محمد زمان بهلول

شورای ملی جمهوری

اسلامی افغانستان

مصوبه

قانون حمايت از

رقابت

شمارهٔ مسلسل: (۱۵۳)

تاريخ تصويب: ۱۳۸۸/۱۰/۱

به تأسی از حکم مندرج مادهٔ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی مرکب از پنج پنج نفر از اعضای هر جرگه، قانون حمايت از رقابت را به داخل پنج فصل و سی و پنج ماده به تاريخ اول ماه جدی سال ۱۳۸۸ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

عزيز احمد نادم

معاون هيئت مختلط

محمد زمان بهلول

# فهرست مندرجات

## قانون حمایت از رقابت

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادۀ چهارم: | ایجاد اداره | ۶ |
| مادۀ پنجم : | مرجع تطبیق کننده | ۷ |
| مادۀ ششم: | ساحۀ تطبیق | ۷ |


## فصل دوم

## روش های ضد رقابتی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هفتم: | ممنوعیت و محدودیت رقابت | ۸ |
| مادۀ هشتم: | روش های تجارتی غیر منصفانه | ۱۰ |
| مادۀ نهم: | ممنوعیت انجام وظایف به هم پیوسته | ۱۸ |
| مادۀ دهم: | محدودیت اندازۀ مالکیت سرمایه یا سهم | ۱۸ |

مادهٔ یازدهم: محدودیت ادغام مؤسسه و شرکت.............۱۹
مادهٔ دوازدهم: حقوق ملکیت های فکری .....................۲۰
مادهٔ سیزدهم: اعطای امتیاز یا معافیت.........................۲۰

## فصل سوم

## بورد ملی رقابت

مادهٔ چهاردهم: ترکیب بورد.....................................۲۱
مادهٔ پانزدهم: مراسم تحلیف.....................................۲۳
مادهٔ شانزدهم: میعاد خدمت.....................................۲۴
مادهٔ هفدهم : وظایف و صلاحیت های بورد.................۲۴
مادهٔ هجدهم : محدودیت ها.....................................۲۷
مادهٔ نزدهم : حفظ اسرار.........................................۲۸
مادهٔ بیستم: تصامیم خنثی کنندهٔ روش های ضد رقابتی......۲۸
مادهٔ بیست ویکم: بررسی شکایت.................................۳۰
مادهٔ بیست ودوم: تطبیق تصامیم.................................۳۱
مادهٔ بیست وسوم: موقف بورد.....................................۳۱

## فصل چهارم

## مؤیدات

مادهٔ بیست وچهارم: جبران خساره.................................۳۲
مادهٔ بیست وپنجم : جریمه.........................................۳۳
مادهٔ بیست وششم: جریمه.........................................۳۶

مادهٔ بیست و هفتم: جریمهٔ اظهارات غیر واقعی.......................۳۹
مادهٔ بیست و هشتم: تعقیب عدلی شاهد کاذب.......................۴۱
مادهٔ بیست و نهم: مجازات افشای اطلاعات........................۴۲
مادهٔ سی ام: مجازات سوء استفاده............................۴۲
مادهٔ سی ویکم: رسیدگی قضایا.................................۴۳
مادهٔ سی ودوم : تحویلی پول....................................۴۳

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

مادهٔ سی وسوم: اموال احتکار شده.............................۴۴
مادهٔ سی وچهارم : وضع مقره ها..................................۴۴
مادهٔ سی وپنجم : انفاذ...........................................۴۴

بسم الله الرحمن الرحيم

## له رقابت(سيالۍ) څخه دملاتړ قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د يوولسمې مادې د حکم په رڼا کې له رقابت څخه د ملاتـړ او په آزاد بازار کې له انحصار څخه د مخنيوي د اړوندو چارو د تنظيم په منظور، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

د دې قانون مـوخې عبـارت دي له :

۱- په بازار کې له سـالم رقابـت څخه ملاتړ.

۲- له غير منصفانه قرارداد، موافقې

## قانون حمايت از رقابت

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

ايـن قـانون در روشـنی حکـم مادۀ يازدهم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظـيم امـور مربـوط به حمايت از رقابت وجلـوگيری از انحـصار در بـازار وضـع گرديده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف اين قـانون عبـارت انـد از:

۱- حمايـت از رقابـت سـالم در بازار .

۲- جلوگيری از قرارداد، توافـق

او تفاهم يا هغو اجراآتو څخه چې د مالونو، خدمتونو او توليداتو په بازارونو کې د رقابت پر محدودېدو، ګډوډېدو يا په منع کېدو تمام شي، مخنيوی.

۳- په سوداګريز فعاليت کې له انحصار څخه مخنيوی.

۴- په بازار کې د انحصارګر متشبث له نفوذ څخه مخنيوی.

۵- دعامه اقتصاد دسوکالۍ په منظور د سالم رقابت دزمينې برابرول.

## اصطلاحګانې

دريیمه ماده:

لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې دغه مفاهيم افاده کوي:

۱- بازار: هغه ځای دی چې پېرودونکی او پلورونکی پکې، مالونه يا خدمتونه وړاندې کوی او غوښتنه ئې کوي.

۲- مال: هر ډول منقوله يا غير منقوله شتمني ده چې په سوداګرۍ کې تر تبادلې يا ګټې اخيستنې

وتفاهم غير منصفانه و اجراآتی که منجر به محدود شدن، مختل شدن يا منع شدن رقابت در بازارهای اموال، خدمات وپروسه توليدات گردد.

۳- جلوگيری از انحصار در فعاليت تجارتی .

۴- جلوگيری از نفوذ متشبث انحصارگر در بازار.

۵- فراهم نمودن زمينۀ رقابت سالم به منظور رفاه اقتصاد عامه.

## اصطلاحات

مادۀ سوم:

اصطلاحات آتی در اين قانون مفاهيم ذيل را افاده می نمايد :

۱ - بازار: محلی است که در آن خريدار و فروشنده، اموال يا خدمات را عرضه و تقاضا می نمايد.

۲- مال: هرنوع دارايی منقول يا غير منقول است که در تجارت مورد تبادله و

لاندې نيول كېږي.

۳- خدمتونه: فزيكى يا فكري يا له دواړو څخه مركب فعاليتونه دي چې پايله يې د تفكيك وړ نده او د اجرت په وړاندې ترسره او په بازار كې د عرضې او تقاضا وړگرځي.

۴- متشبث: د جواز لرونكى هغه حقيقي يا حكمي شخصيت دى چې مالونه پروسس، توليد يا پلوري او يا خدمتونه په بازار كې وړاندې كوي.

۵- سوداگر: هغه حقيقي يا حكمي شخصيت دى چې د قانون د حكمونو مطابق سوداگريز جواز ترلاسه او په يوې يا څو سوداگريزو معاملو لاس پورې كړي او دغه شغل خپله پېشه او حرفه وگرځوي.

٦- شركت: هغه حكمي شخصيت دى چې د قانون دحكمونو مطابق، جوړ شوى وي.

۷- مؤسسه يا فابريكه: هغه حكمي

استفاده قرارمى گيرد .

۳ - خدمات : فعاليت هاى فزيكى يا فكرى ويا مركب از هردو است كه نتيجۀ آن قابل تفكيك نبوده درمقابل اجرت انجام ودر بازارمورد عرضه وتقاضا قرارمى گيرد.

۴ - متشبث: شخصيت حقيقى يا حكمى دارندۀ جواز است كه اموال را پروسس ، توليد يا به فروش رسانيده و يا خدمات را در با زارعرضه مى نمايد.

۵ - تاجر : شخصيت حقيقى يا حكمى است كه طبق احكام قانون، جواز تجارتى را حاصل و به يک يا چند معاملۀ تجارتى مبادرت ورزيده و اين شغل راپيشه وحرفۀ خود سازد.

٦ - شركت: شخصيت حكمى است كه طبق احكام قانون ايجاد مى گردد.

۷ - مؤسسه يا فابريكه: شخصيت

شخصیت دی چې د مالونو یا خدمتونو په پروسس، تولید، ویشلو یا تبادلې او یا د خدمتونو په وړاندې کولو کې فعالیت کوي.

۸- رقابت: هغه حالت دی چې په بازار کې یو شمېر خپلواک تولیدوونکي، پېروودنکي او پلورونکي د مالونو د تولید، پېرودنې یا پلورنې یا ورته خدمتونو لپاره داسې فعالیت کوي چې له هغوی څخه هېڅ یو په جلا توګه په بازار کې د مقدار او بیې د ټاکلو توان ونلري.

۹- انحصار: هغه حالت دی چې بازار ته د نوو اشخاصو ننوتل له خنډونو یا محدودیت سره مخامخوي یا د بازار په عرضې او تقاضاء کې د شخص، مؤسسې، فابریکې یا شرکت د ونډې موجودیت، پداسې اندازه مشخص کړي چې په بازار کې د بیې یا د مقدار د ټاکلو توان ولري.

حکمی است که در پروسس، تولید، توزیع یا تبادلهٔ اموال یا عرضهٔ خدمات فعالیت می نماید.

۸ – رقابت: حالتی است که در بازار، عدهٔ از تولید کنندگان، خریداران و فروشندگان مستقل، برای تولید، خرید یا فروش اموال و یا خدمات مشابه طور فعالیت می نمایند که هیچ یک از آنها به طور جداگانه قدرت تعیین مقدار وقیمت را در بازار نداشته باشند.

۹- انحصار : حالتی است که ورود اشخاص جدید را به بازار با موانع یا محدودیت مواجه نموده یا موجودیت سهم شخص، مؤسسه، فابریکه یا شرکت را در عرضه یا تقاضای بازار به اندازهٔ مشخص سازد که قدرت تعیین قیمت یا مقدار را در بازار داشته باشد.

۱۰- فکري مالکيت: د ادبي، هنري، تصويري او صنعتي آثارو په ډګر کې اختراعات اواکتشافات دي چې د انسان له فکر او ذهن څخه راوزي، په سوداګرۍ اوصنعت کې له هغو څخه ګټه اخيستل کېږي اود چاپ اوخپرولوحقوق،اختراعات، سوداګريزې نښې، جغرافيايي نښانونه او صنعتي طرحې پکې شامل دي.

۱۱- ډله ييز عملونه: په ليکلې يا شفاهي توګه تصميم، قرارداد، موافقه او تفاهم دی چې د مالونو او خدمتونو په بازار کې د رقابت له ګډوډولو يا محدودولو څخه د مخنيوي په منظور د متشبث، سوداګر، مؤسسې، شرکت او نورو مسئولينو لخوا عقد کېږي.

۱۲- مسلط اقتصادي حالت: هغه حالت دی چې په بازار کې د مالونو او خدمتونو د بيې، مقدار، عرضې يا تقاضا د

۱۰- مالکيت فکری : اختراعات و اکتشافات درعرصهٔ آثار ادبی ، هنری ، تصويری و صنعتی است که از فکر وذهن انسانها تراوش نموده، درتجارت وصنعت ازآنها استفاده بعمل آمده و شامل حقوق طبع و نشر، اختراعات، علايم تجارتی، نشانهای جغرافيايی و طرح های صنعتی می باشد .

۱۱- اعمال دسته جمعی : تصميم، قرارداد، توافق و تفاهم به طورکتبی يا شفاهی است که ازطرف متشبث، تاجر ، مؤسسه، شرکت وساير مسئولين به منظور جلوگيری، مختل يا محدود ساختن رقابت دربازار اموال وخدمات منعقد می گردد.

۱۲ – وضعيت اقتصادی مسلط : حالتی است که قدرت تعيين قيمت، مقدار، عرضه يا تقاضای اموال و خدمات يا شرايط قرار داد

ټاکلو قدرت د يوۀ يا څو اشخاصو، يا د اشخاصو د يوۀ ګروپ يا شرکتونو په واک کې وي.

۱۳- ادغام: هغه حقوقي عمل دی چې پربنسټ يې دوه يا څومؤسسې، فابريکې يا شرکتونه د خپل دمخه حقوقي شخصيت په لغو کولو سره واحد يانوی حقوقي شخصيت جوړ کړي ياڅو فابريکې، مؤسسې ياشرکتونه سره يوځای شي.

۱۴- کنترولوونکی شرکت: هغه شرکت دی چې د پانګې يا ونډو د تملک له لارې يا له نورو لارو، د نورو شرکتونو اقتصادي فعاليتونه په بازار کې مديريت يا کنترول کړي.

## د ادارې جوړېدل

### څلورمه ماده:

د سالم رقابت د ملاتړ او له انحصار څخه د مخنيوي په منظور، د سوداګرۍ او صنايعو وزارت په چوکاټ کې له رقابت څخه د ملاتړ اداره جوړېږي او د دې قانون د

در بازار در اختيار يک يا چند شخص يا گروپی از اشخاص يا شرکت ها قرار داشته باشد.

۱۳ – ادغام : عمل حقوقی است که به اساس آن دو يا چند مؤسسه، فابريکه يا شرکت با لغو شخصيت حقوقی قبلی خود، شخصيت حقوقی واحد يا جديدی را ايجاد يا چند فابريکه، مؤسسه يا شرکت ديگر با هم يکجا گردد.

۱۴- شرکت کنترول کننده: شرکتی است که از طريق تملک سرمايه يا سهام يا از طرق ديگر، فعاليت های اقتصادی شرکت های ديگر را در بازار مديريت ياکنترول نمايد.

## ايجاد اداره

### مادۀ چهارم :

به منظور حمايت رقابت سالم و جلوگيری از انحصار، ادارۀ حمايت از رقابت در چوکات وزارت تجارت و صنايع ايجاد وطبق احکام

حکمونو مطابق، فعالیت کوي. له رقابت څخه د ملاتړ د ادارې د دندو او واکونو حدود، په اړوند تقنيني سند کې تنظیمېږي.

## تطبيقوونکې مرجع

**پنځمه ماده:**

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت ددې قانون تطبيقوونکې بنستيزه مرجع ده. نور وزارتونه او دولتي او غير دولتي ادارې، ښاروالۍ، سوداګر اوخصوصي متشبثين مکلف دي د دې قانون د حکمونو په تطبيق کې د سوداګرۍ او صنايعو له وزارت سره همکاري وکړي.

## د تطبيق ساحه

**شپږمه ماده:**

ددې قانون حکمونه دکورنيو او بهرنيو په شمول، ټولو حقيقي اوحکمي اشخاصو په هکله چې دمالونو، خدمتونو يا توليداتو په بازار کې ددې قانون د حکمونو مطابق په افغانستان کې

این قانون فعالیت می نماید. حدود وظایف و صلاحیت ادارهٔ حمایت از رقابت در سند تقنینی مربوط تنظیم می گردد.

## مرجع تطبیق کننده

**مادهٔ پنجم:**

وزارت تجارت وصنایع مرجع اساسی تطبیق کنندهٔ این قانون می باشد. سایر وزارت ها و ادارات دولتی وغیر دولتی، شاروالیها، تجار و متشبثین خصوصی مکلف اند در تطبیق احکام این قانون با وزارت تجارت وصنایع همکاری نمایند.

## ساحهٔ تطبیق

**مادهٔ ششم:**

احکام این قانون درمورد کلیه اشخاص حقیقی و حکمی اعم از داخلی و خارجی که در بازار اموال، خدمات یا تولیدات مطابق احکام قانون در افغانستان فعالیت

فعاليت کوي، د تطبيق وړ دي.

## دوه یم فصل

## رقابتي ضد تګلارې

## درقابت منع کېدل او محدوديت

اوومه ماده:

د متشبثينو، سوداګرو، مؤسسو او شرکتونو ترمنځ د لاندې مواردو په شمول هر ډول ليکلي، شفاهي يا الکترونيکي قرارداد، موافقه يا تفاهم چې موخه يې په رقابت کې مخنيوي، محدوديت يا ګډوډي يا مستهلکينو ته زيان رسول وي، منع دي:

۱- په بازار کې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د پېر يا پلور د بيې يا د هغې د ټاکلو د ډول مشخصول.

۲- په بازار کې يا له هغۀ څخه بهر د مالونو يا خدمتونو د توليد، پېر يا پلور د مقدار محدودول يا تر کنترول لاندې راوستل.

۳- په سوداګريزو ورته (مشابه) معاملو

می کنند، قابل تطبیق می باشد .

## فصل دوم

## روش های ضد رقابتی

## ممنوعیت و محدودیت رقابت

مادۀ هفتم :

هر نوع تفاهم، توافق و قرارداد کتبی، شفاهی یا الکترونیکی شامل موارد ذیل میان متشبثین، تجار، مؤسسات و شرکت هائیکه هدف آن ممانعت، محدودیت یا اخلا ل در رقابت یا صدمه رساندن به مستهلکین باشد ممنوع است:

۱- مشخص نمودن قیمت خرید یا فروش یا نحوۀ تعیین آن به طور مستقیم یا غیر مستقیم در بازار .

۲- محدود ساختن یا تحت کنترول در آوردن مقدار تولید، خرید یا فروش اموا ل یا خدمات در بازار یا خارج از آن.

۳- تحمیل شرایط غیر مشابه

کې د غیرمشابه شرایطو تحمیلول.
۴- له ثالث شخص سره د قرارداد په عقدولو د معاملې اړخ ملزمول یا پر هغوی باندې د قرارداد د شرایطو تحمیلول.
۵- دوو یا له دوو څخه زیاتو اشخاصو یا څو ډلو ته د مالونو یا خدمتونو د بازار تقسیمول.
٦- په بازار کې له تفاهم، موافقې یا قرارداد څخه د بهر اشخاصو د لاس رسی محدودول.
۷- د مالونو یا خدمتونو د بازار جلا کول یا د بازار د ټولو ډول ډول سرچینو یا عناصرو وېش یا کنترولول.
۸- په بازار کې د متشبث یا سوداګر د رقابتي فعالیتونو محدودول یا د تحریم یا ډول ډول فشار، رفتار د وضع کولو له لارې د شرکت، مؤسسې او فابریکې د فعالیتونو منحصرول یا په بازار کې د نوو داوطلبانو له واردېدو څخه

در معاملات مشابه تجاری .
۴- ملزم نمودن طرف معامله به عقد قرار داد با شخص ثالث یا تحمیل شرایط قرارداد بر آنها .
۵- تقسیم نمودن بازار اموال یا خدمات به دو یا بیشتر از دو شخص یا چند گروه .
٦- محدود نمودن دسترسی اشخاص خارج از تفاهم، توافق و قرارداد در بازار .
۷- جدا ساختن بازار اموال یا خدمات یا تقسیم یا کنترول تمام انواع منابع و یا عناصر بازار .
۸- محدود ساختن فعالیت های رقابتی متشبث یا تاجر یا منحصر ساختن فعالیت های شرکت، مؤسسه و فابریکه در بازار از طریق وضع تحریم یا انواع فشار و رفتار یا جلوگیری بالقوه از ورود داوطلبان جدید

بالقوه مخنیوی.

۹- د نورو اړخونو په واسطه د تکمیلي ژمنو منلو ته چې د قرارداد له موضوع سره اړه ونلري، د قرارداد د عقد کېدو موکولول.

۱۰- د موافقه لیک یا د سوداګریز عرف مغایر، له تر پیرودلو لاندې مال یا خدمتونو سره یوځای د نورو مالونو یا خدمتونو پیرودلو ته مجبورول.

۱۱- هغهٔ پیرودونکي ته ننداري ته د مال یا خدمت ایښودل کوم چې د منځګړي په توګه عمل کوي خو مالونه یا خدمتونه چې مشتریانو ته وړاندې کېږي، پرته له هغو شخصه وي چې ننداري ته ایښودل شویدي.

دغیرمنصفانه سوداګری تګلارې

اتمه ماده:

لاندې سوداګریزې تګلارې غیر منصفانه دي او په هغهٔ صورت کې چې د هغو اعمالول په بازار کې د رقابت په بندېدو(ممانعت)،

در بازار.

۹- موکول نمودن انعقاد قرارداد به قبول تعهدات تکمیلی توسط طرف های دیگر که با موضوع قرارداد ارتباط نداشته باشد.

۱۰- مجبورساختن به خرید اموال یا خدمات دیگر، توأم با مال یا خدمت تحت خرید مغایر موافقتنامه یا عرف تجارتی.

۱۱- به نمایش گذاشتن مال یا خدمت به خریداری که منحیث میانجی عمل می نماید ولی اموال یا خدماتی که به مشتریان عرضه می گردد، غیر از آن بوده، که به نمایش گذاشته شده است .

روش های تجارتی غیرمنصفانه

مادهٔ هشتم:

روش های تجارتی ذیل غیر منصفانه بوده و درصورتی که اعمال آنها منجر به ممانعت، محدودیت یا اخلال رقابت

محدوديت يا ګډوډۍ تمام شـــي، منع دي:

۱– له معاملې څخه ډډه کول چې لاندې موارد پکې شامل دي:

– د معاملې له ترسره کولو څخــه ډله ييز ډډه کول يـــا د معـــاملې د موضوع د مالونو يـــا خـــدمتونو د مقدار محدودول.

– له معاملې څخه د ډډې کولو په اړه د بل شخص اړايستل يا له خپلو رقيبانو سره د هغـــوی د معـــاملو محدودول.

۲– تبعيض آمېزه بيه اېښودنه چې په کې د ورته مالونو يا خدمتونو عرضه يا تقاضا په هغه بيه چې د معاملې د دوو يا څو اړخونو ترمنځ د تبعيض يـــا د مختلفـــو ســـيمو تـــرمنځ د بيـــې د تبعـــيض ځرګنـــد وي، شامله وي.

۳– د معاملې په شرايطو کې تبعيض چې په يوۀ شان وضعيت کـــې لـــه مختلفو اشخاصو سره په معامله کې

در بـــازار گـــردد ، ممنـــوع می باشد:

۱– امتناع از معامله کـــه شـــامل موارد ذيل می باشد:

– خود داری دســـته جمعـــی از انجـــام معاملـــه يـــا محـــدود کردن مقدار اموا ل يـــا خـــدمات موضوع معامله .

– وادار نمودن شـــخص ديگـــر مبنـــی بـــر امتنـــاع از معاملـــه يا محدود کردن معـــاملات آنهـــا با رقبای شان .

۲– قيمـــت گـــذاری تبعـــيض آميز که شامل عرضه يا تقاضـــای امـــوا ل يـــا خـــدمات مـــشابه بـــه قيمـــت کـــه حـــاکی از تبعـــيض بـــين دو يـــا چنـــد طرف معامله يا تبعيض قيمت بـــين مناطق مختلف باشد.

۳– تبعيض در شـــرايط معاملـــه که شامل قايـــل شـــدن شـــرايط تبعـــيض آميـــز در معاملـــه

تبعیض آمېزو شرایطو ته قایلېدل پکې شامل وي.

۴- يرغليزه بيه اېښودنه چې لاندې موارد پکې شامل دي:

- له تمامو شوو لګښتونو څخه په ټيټه بيه د مالونو يا خدمتونو عرضه کول په داسې ډول چې نورو ته سخت تاوان واوړي يا په بازار کې د نوو اشخاصو د واردېدو خنډ شي.

- د جايزې، تحفې، تخفيف يا هغو ته ورته ورکول ( د بورد په تشخيص) چې نورو ته د سخت تاوان موجب شي.

۵- د شفاهي او ليکلې ګمراه کوونکو ويناوو په شمول يا لاندې اغېزمن مشکوک کردار:

- خپل مالونه يا خدمتونه په غير واقعي توګه په خاص کيفيت، مقدار، درجې، وصف،مدل يا خاص ستندرد وښيي يا د خپلو رقيبانو مالونه او خدمتونه ټيټ وښيي.

با اشخاص مختلف در وضعیت یکسان باشد.

۴- قیمت گذاری تهاجمی که شامل موارد ذیل می باشد:

- عرضهٔ اموا ل یا خدمات به قیمت نازلتر از مصارف تمام شد به نحوی که صدمهٔ جدی به دیگران وارد گردد یا مانع ورود اشخاص جدید در بازار شود .

- اعطای جایزه، تحفه، تخفیف یا امثال آن ( به تشخیص بورد) که موجب صدمهٔ جدی به دیگران گردد.

۵- اظهارات گمراه کننده اعم از شفاهی و کتبی یا رفتار مشکوک حاوی اثرات ذیل:

- اموال یا خدمات خود را طور غیر واقعی، باکیفیت،مقدار، درجه، وصف، مدل یا ستندرد خاص نشان داده یا اموا ل و خدمات رقبای خویش را پایینترجلوه دهد .

- زاړه يـــا تـــرميم شـــوي (بيـــا جوړشوي) يا د دوه يم لاس مالونه نوي معرفي کړي.
- دمالونو يا د هغو د هرې برخې له پلورلو، تعويض، ساتنې، ترميماتو د وروسته خدمت د وړاندې کولو يا تر ټاکلې پايلې پورې د خدمتونو د تکرار او يا تداوم ژمنه، پداسې حا ل کې چـــې دغـــه ډول شـــونتياوې وجود ونلري.
- د مالونو يا هغو خدمتونو چـــې وړانـــدې کـــوي يـــې د بيـــې له بابتـــه د خلکـــو تېـــر ايـــستل.
٦- مرتبطه پلورنه چې لاندې موارد پکې شامل دي:
- د نورو مالونو په پېرودلو يـــا د خدمتونو په عرضه کولو پـــورې د مالونو د پېرودلو يا د خـــدمتونو د وړاندې کولو مربوطول.
- له ثالث شخص سره معاملې ته، د مقابل لوري اړ ايستل، پـــه هغـــۀ صورت کې چې د نورو مالونو يـــا

- اموال کهنه يا ترميم شده (تجديد ساخت شده) يا دست دوم را جديد معرفی نمايد .
- تعهد ارايـــۀ خـــدمت بعـــد از فـــروش، تعـــويض، نگهـــداری، ترميمات اموال يا هـــر قـــسمت از آنها يـــا تکـــرار ويـــا تـــداوم خـــدمات الـــی نتيجـــۀ معـــين در حالی که چنين امکاناتی وجود نداشته باشد .
- فريب دادن مردم از بابت قيمت اموا ل يا خـــدماتی کـــه عرضـــه می دارد .
٦- فروش مرتبط که شامل موارد ذيل می باشد:
- مربـــوط ســـاختن فـــروش امـــوا ل يـــا عرضـــۀ خـــدمات به خريد امـــوال يـــا عرضـــۀ خدمات ديگر .
- وادار ساختن طرف مقابل، بـــه معامله با شخص ثالث، در صورتی کـــه بـــه عرضـــه يـــا تقاضـــای

خدمتونو له عرضې يا تقاضا سره ارتباط ورکړل شوی وي.

۷- په انحصاري شرايطو کې معامله چې لاندې موارد پکې شامل دي:

- له مقابل لوري سره معامله، پدې شرط چې نوموړی لوری د هغهٔ له رقيبانو سره د معاملې له سرته رسولو څخه ډډه وکړي.

- د مالونو زېرمه کول يا تلف کول يا دهغو له پلورلو څخه ډډه کول يا دخدمتونو له وړاندې کولو څخه ډډه کول پداسې ډول چې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه په بازار کې د بيې په تصنعي لوړېدو تمامه شي.

۸- د غير ستندرد مالونو يا خدمتونو وړاندې کول چې د واکمنو مقاماتو په واسطه له اعلام شوو ستندردونو سره د استعمال، ترکيب، کيفيت، محتوياتو، طراحۍ، جوړښت، بشپړتيا يا د هغو د بسته بندۍ له لحاظه مطابقت ونلري.

اموا ل يا خدمات ديگر ارتباط داده شده باشد .

۷- معامله در شرايط انحصاری که شامل موارد ذيل باشد:

- معامله با طرف مقابل با اين شرط که طرف مذکور از انجام معامله با رقبای وی امتناع ورزد .

- ذخيره نمودن يا اتلاف اموا ل يا امتناع از فروش آنها يا امتناع از عرضهٔ خدمات به نحوی که به صورت مستقيم يا غير مستقيم منجربه صعود تصنعی قيمت در بازار گردد .

۸- عرضهٔ اموال يا خدمات غير ستندرد، که با ستندرد های اجباری اعلام شده، توسط مقامات ذيصلاح از لحاظ استعمال، ترکيب ، کيفيت، محتويات، طراحی، ساخت، تکميل و يا بسته بندی آن مطابقت نداشته باشد .

۹- د رقيبې مؤسسې يا شرکت په کورنيو چارو کې لاس وهنه چې د رأيې د حق د اعما ل، د ونډو د لېږدولو، د اسرارو د افشاء کولو يا له نورو ورته لارو څخه چې د رقيب په زيان وي، د يوه يا څو ونډه والو د پانگې دمالک ، د رقيبې مؤسسې يا شرکت د رئيس يا کارکوونکو هڅول، تحريکول يا اړ ايستل پکې شامل دي.

۱۰- د قراردادونو له عقد څخه د مخنيوي يا د قرارداد نقض کولو ته د هڅونې له لارې يا په بل ورته شکل سره د رقيبو متشبثينو، سوداگرو، مؤسسو يا شرکتونو په شمول د رقيبانو په معاملو کې لاسوهنه.

۱۱- په لاندې ډولونو سره له مسلط اقتصادي وضعيت څخه ناوړه گټه اخيستنه:

- په غير معموله توگه د مالونو يا خدمتونو د بيو ټاکل، ساتل يا

۹- مداخله در امور داخلی مؤسسه يا شرکت رقيب که شامل ترغيب ، تحريک يا وادار نمودن يک يا چند سهم دار، مالک سرمايه، رئيس يا کارکنان مؤسسه يا شرکت رقيب از طريق اعما ل حق رای ، انتقا ل سهام، افشای اسرار يا طرق مشابه ديگری که به ضرر رقيب باشد .

۱۰- مداخله در معاملات رقبا شامل متشبثين، تجار، مؤسسات يا شرکت های رقيب از طريق جلوگيری از عقد قرار داد ها يا تشويق به نقض قرارداد يا به شکل مشابه ديگر .

۱۱- سوء استفاده از وضعيت اقتصادی مسلط به اشکال ذيل :

- تعيين ،حفظ يا تغيير قيمت اموال يا خدمات به طور غير

بدلول.

– د غير منصفانه قرارداد د شرايطو تحميلول.

– په بازار کې د بيې د لوړولو يا ټيټولو په منظور د عرضې يا تقاضا د مقدار محدودول.

– د نورو رقيبانو له واردېدو څخه د مخنيوي په منظور، د خنډونو پيدا کول يا په خاصو فعاليتونو کې د رقيبو متشبثينو، سوداګرو، مؤسسو ياشرکتونو حذفول.

– د هغو شرايطو په منلو د قرارداد مشروطول چې دمحتوي ياسوداګريز عرف له نظره،ددغۀ ډول قراردادونو له موضوع سره ارتباط ونلري.

– د پانګې او شرکت تملک په هغۀ صورت کې چې دغه ډول وضع د رقابت په ګډوډېدو تمامه شي.

۱۲– د متشبثينو، سوداګرو، مؤسسو او شرکتونو له ډله ييزو اعمالو څخه ناوړه ګټه اخيستنه چې د مالونو يا خدمتونو په بازار کې

معمول .

–تحميل شرايط قرارداد غير منصفانه.

– تحديد مقدار عرضه يا تقاضا به منظور افزايش يا كاهش قيمت دربازار .

– ايجاد موانع، به منظور جلوگيرى ورود رقباى جديد ياحذف متشبثين، تجار، مؤسسات يا شركت هاى رقيب در فعاليت هاى خاص .

– مشروط ساختن قرار داد به قبول شرايط كه از نظر محتوا يا عرف تجارتى ارتباط به موضوع چنين قرار داد ها نداشته باشد .

– تملك سرمايه و شركت درصورتى كه چنين وضع منجر به اخلال رقابت گردد .

۱۲–سؤاستفاده اعمال دسته جمعى متشبثين، تجار، مؤسسات و شركت هائيكه در بازار اموا ل يا خدمات تسلط

تسلط لري.

۱۳- د لاندې شرایطو په منلو سره پر پېرودونکي باندې د مالونو یا خدمتونو د وړاندې کولو په شمول د بیا پلورنې د بیې محدودول:

- د پلورنې د ټاکل شوې بیې منلو ته د پېرودونکي اړ ایستل یا په نورو ډولونو د مالونو یا خدمتونو د پلورنې په بیه کې د هغهٔ د ازادانه تصمیم محدودول.

- پردې باندې د پېرودونکي مقیدول چې متشبث، سوداګر، هغه مؤسسه یاشرکت چې ورڅخه مالونه پېري یا خدمتونه وړاندې کوي، د ټاکلو مالونو یا خدمتونو د پلورنې د بیې ساتلو ته اړباسي.

- په نورو ډولونو دمالونو یا خدمتونو د پلورنې د بیې په ټاکلو کې دثالث متشبث، سوداګر، مؤسسې یا شرکت د ازادانه تصمیم محدودولوته د پېرودونکي اړایستل.

۱۴- د ځان یا ثالث شخص په ګټه

دارند.

۱۳- محدود کردن قیمت فروش مجدد شامل عرضهٔ اموا ل یا خدمات به خریدار با پذیرش شرایط ذیل:

- وادار نمودن خریدار به قبول قیمت فروش تعیین شده یا محدود کردن تصمیم آزادانهٔ وی در تعیین قیمت فروش اموا ل یا خدمات به اشکال دیگر .

- مقید ساختن خریدار بر اینکه متشبث، تاجر، مؤسسه یاشرکتی که از وی اموال را خریداری یا خدمات را عرضه می کند، به حفظ قیمت فروش اموال یا خدمات معیین وادار نماید .

- وادار نمودن خریدار به محدود کردن تصمیم آزادانهٔ متشبث، تاجر ، مؤسسه یا شرکت ثالث در تعیین قیمت فروش اموال یا خدمات به اشکال دیگر .

۱۴- استفادهٔ غیر مجاز اطلاعات

په سوداګريزو، مالي، فني او هغو ته ورته چارو کې د رقيبانو له هر ډول کورنيو اطلاعاتو څخه دګټې اخيستنې په شمول له اطلاعاتو څخه غير مجاز ګټه اوچتول او له هغو څخه ناوړه استفاده.

**يوه له بلې سره د تړلو دندو د سرته رسولو ممنوعيت**

**نهمه ماده:**

دمؤسسې ياشرکت رئيس او کارکوونکي نشي کولی، په يوهٔ وخت کې په بله مؤسسه يا شرکت کې د پست متصدي شي، پداسې ډول چې په يوهٔ يا څو بازارونو کې دمحدوديت په راپيدا کېدو يا د رقابت په ګډوډېدو تمام شي.

**د پانګې يا ونډې د مالکيت د اندازې محدوديت**

**لسمه ماده:**

هېڅ حقيقي يا حکمي شخص نشي کولی، دبلې مؤسسې يا

وسوء استفاده از آن، شامل بهره برداری ازهرگونه اطلاعات داخلی رقبا، در امور تجارتی ، مالی ، فنی و امثال آن به نفع خود يا شخص ثالث .

**ممنوعيت انجام وظايف به هم پيوسته**

**مادهٔ نهم :**

رئيس و کارکنان مؤسسه يا شرکت نمی توانند، هم زمان متصدی پست در مؤسسه يا شرکت ديگری گردند، به نحوی که منجر به ايجاد محدوديت يا اخلا ل رقابت در يک يا چند بازارشوند.

**محدويت اندازهٔ مالکيت سرمايه يا سهم**

**مادهٔ دهم :**

هيچ شخص حقيقی يا حکمی نمی تواند، سرمايه يا سهام

شرکت پانگه يا ونډې پداسې ډول تملک کړي چې په يوهٔ يا له يوهٔ څخه په زياتو بازارونوکې د رقابت د ګډوډۍ موجب شي.

**دمؤسسې او شرکت د ادغام محدوديت**

**يوولسمه ماده:**

(۱)مؤسسه ياشرکت په لاندې حالاتو کې نشي کولی په يو اړخيز، دوه اړخيز يا څو اړخيز ادغام لاس پورې کړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د ادغام په بهير يا يې په پايله کې په بازار کې غير منصفانه سوداګريزې تګلارې اعمال شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې ادغام په بازارکې دمالونو يا خدمتونو د بيې دغير معمول لوړوالي ياټيټوالي موجب شي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې (ادغام په بازار کې د شديد تمرکز د بورډ په

شرکت يا مؤسسهٔ ديگر را به نحوی تملک نمايد که موجب اخلال رقابت در يک يا بيش از يک بازار گردد.

**محدوديت ادغام مؤسسه و شرکت**

**مادهٔ يازدهم :**

(۱) مؤسسه يا شرکت در حالات ذيل نمی تواند به ادغام يک جانبه ، دو جانبه يا چند جانبه اقدام نمايد:

۱- در صورتی که در جريان ادغام يا در نتيجهٔ آن روش های تجارتی غير منصفانه در بازار اعمال گردد.

۲- در صورتی که ادغام موجب افزايش يا کاهش غير معمول قيمت اموال يا خدمات در بازار گردد.

۳- درصورتی که ادغام موجب ايجاد تمرکز شديد ( به تشخيص

تشخیص) د راپیداکېدو موجب شي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې ادغام په بازار کې دکنترولوونکې مؤسسې یا شرکت د جوړېدو موجب شي.

(۲) که چېرې مؤسسه یا شرکت د نه ادغام له امله، له فعالیت څخه ولوېږي، پدې صورت کې ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دی.

## د فکري ملکیتونو حقوق

دوولسمه ماده:

د فکري ملکیتونو د انحصاري حقوقو او امتیازونو لرونکی نشي کولی، ددې قانون له اوومې څخه تر نهمې مادې پورې حکمونه، نقض کړي.

## د امتیاز یا معافیت ورکول

دیارلسمه ماده:

مقامات، وزارتونه، اداري، مؤسسې او شرکتونه نشي کولی په توپیري بڼه هغه امتیاز یا معافیتونه ورکړي چې په بازار

بورد) در بازار گردد .

۴- در صورتی که ادغام موجب ایجاد مؤسسه یا شرکت کنترول کننده در بازار گردد.

(۲) هرگاه مؤسسه یا شرکت از اثر عدم ادغام از فعالیت باز ماند، درینصورت از حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مستثنی است .

## حقوق ملکیت های فکری

مادهٔ دوازدهم :

دارندهٔ حقوق و امتیازات انحصاری ملکیت های فکری نمی تواند، احکام مواد هفتم الی نهم این قانون را نقض نماید.

## اعطای امتیاز یا معافیت

مادهٔ سیزدهم :

مقامات، وزارت ها، ادارات، مؤسسات وشرکت ها نمی توانند، به صورت تبعیض آمیز امتیاز یامعافیت

کې ديوۀ يا څو سوداګرو، مؤسسې يا شرکت په تسلط يا په رقابت کې پـــه ګډوډۍ باندې تمام شي.

## دريیم فصل

## د رقابت ملي بورډ

**د بورډ ترکيب**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) له سالم رقابت څخه د ملاتړ او له انحصار څخه د مخنيــوي پــه منظور، د رقابت ملي بورډ په لاندې ترکيب سره جوړيږي:

۱- د سوداګرۍ او صنايعو وزير د رئيس په توګه.

۲- د ماليې وزارت معين، د غړي په توګه.

۳- د اقتصاد وزارت معين، د غړي په توګه.

۴- د ملي ستندرد د ادارې رئيس، د غړي په توګه.

۵- د افغانــــستان د واحـــــدې سوداګرۍ د خونې رئيس، د غړي

---

های را که منجر به تسلط یک یا چند تاجر، مؤسسه یا شرکت در بازار یا اخلال در رقابت گردد، اعطاء نماید.

## فصل سوم

## بورد ملی رقابت

**ترکیب بورد**

**مادۀ چهاردهم :**

(۱) به منظور حمایت از رقابــت سالم و جلــوگیری از انحــصار، بورد ملی رقابت به ترکیب ذیــل ایجاد می گردد:

۱- وزیر تجارت وصنایع، بحیث رئیس .

۲- معین وزارت مالیه، به حیــث عضو.

۳- معین وزارت اقتصاد، به حیث عضو.

۴- رئیس ادارۀ ملــی ســتندرد به حیث عضو.

۵- رئـــیس اتـــاق تجـــارت واحــد افغانــستان بـــه حیـــث

په توګه.

۶- يو تن حقوق پـــوه د حقـــوق پوهانو د اتحاديې د رئيس په ټاکنه، د غړي په توګه.

۷- يو تن اقتصاد پوه د اقتـــصاد د وزير په ټاکنه، د غړي په توګه.

۸- يو تن حقوق پوه د عـــدليې د وزير په ټاکنه، د غړي په توګه.

۹- د سوداګرۍ او صنعت په چارو کې دوه تنه اهل خبره، د سوداګرۍ او صنايعو د وزير په ټاکنه، د غړو په توګه.

۱۰- له رقابت څخـــه د ملاتـــړ د ادارې رئيس د غړي او منشي پـــه توګه.

۱۱- يو تن د کارګرانو له اتحاديې څخه د غړي په توګه.

(۲) د بورډ سکرتريت، له رقابـــت څخه د ملاتړ اداره په غاړه لـــري.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کـــې درج لـــــه (۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶ او۱۰) جزء په استثني هغه شخص د

عضو .

۶- يک نفر حقوقدان به انتخـــاب رئيس اتحاديـــهٔ حقـــوق دانـــان به حيث عضو .

۷- يک نفر اقتصاد دان به انتخاب وزير اقتصاد به حيث عضو .

۸- يک نفر حقوقدان به انتخـــاب وزير عدليه به حيث عضو.

۹- دو نفـــــر اهـــــل خبـــــره در امور تجـــارت وصـــنعت بـــه انتخاب وزير تجارت وصنايع بـــه حيث اعضاء.

۱۰- رئـــيس ادارهٔ حمايـــت از رقابـــت بـــه حيـــث عـــضو و منشى .

۱۱- يک نفر نماينده از اتحاديـــهٔ کارگران به حيث عضو.

(۲) ســـکرتريت بـــورد را ادارهٔ حمايت از رقابت بدوش دارد.

(۳) به استثناى اجزاى (۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶ و ۱۰) منـــــــدرج فقرهٔ (۱) ايـــن مـــاده، شخـــصى

بورډ د غـړي پـه توګـه ټاکـل کېږي چـې د لانـدې شـرايطو لرونکی وي:

۱- د تابعيت د سند لرل.

۲- د اقتصاد، حقوقو يا شرعياتو په رشته کې لږ تر لږهٔ د لېـسانس د فراغت د سند لرل.

۳- لږ تر لږهٔ د (۵) کاله کـاري تجربې لرل.

۴- د بشري ضد جنايت يا جرمونو په ارتکاب يا له مدني حقوقو څخه په حرمان نه محکوميت.

(۴) د بورډ په غونډه کې پـه دې ماده کې درج شويو کسانو ګډون افتخاري وي.

## د تحليف مراسم

**پنځلسمه ماده:**

دبورډ رئيس اوغړي له غوره کېـدو وروسته دافغانستان اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس په حضور کې لاندې حلف پرځای کوي:

د خدای (ج) په نوم سوګند يـادوم

بحيث عضو بـورد تعيـين شـده می توانـد کـه واجـد شـرايط ذيل باشد:

۱- داشتن سند تابعيت .

۲- داشتن سند فراغت حد اقـل ليسانس در رشته هـای اقتـصاد، حقوق يا شرعيات.

۳- داشتن حد اقـل (۵) سـال تجربهٔ کاری.

۴- عدم محکوميت به ارتکـاب جنايت يا جرايم ضد بـشری يـا حرمان ازحقوق مدنی.

(۴) اشتراک اعضای مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در جلسات بورد طور افتخاری می باشد.

## مراسم تحليف

**مادهٔ پانزدهم:**

رئيس واعضای بورد بعد ازانتخاب، در حضور رئيس جمهوری اسلامی افغانـستان،حلف آتـی را بجـا می آورند:

بنـام خداونـد (ج) سـوگند

چې سپارل شوې دندې، ددې قانون د حكمونو مطـابق، پـه بـشپړې ربښتينولى، امانت دارۍ اود هېواد د لوړو ګټو په ساتلو سـره سـرته رسوم او خداى (ج) د سپارل شوو دندو د اجراء په وخت كې حاضر او ناظر ګڼم.

**د خدمت موده**

**شپاړسمه ماده:**

(١) د بـورډ د انتخــابى غــړو د خدمت مــوده څلــور كالــه ده اود يـــوې بلـــې دورې لپـــاره تمديد كېدى شي.

(٢)كه چېرې دبورډ غوره شوى غړى دخدمت د دورې له بشپړولو دمخـــه مړشـــي يـــا اســـتعفي وكـــړي يـــا په يو ډول نه يو ډول سپارل شــوې دندې سرته ونشي رســولى.ديــوې مياشتې مودې په ترڅ كې ددې قانون دحكمونو مطابق دپاتې مودې لپـاره دهغهٔ پر ځاى بل شخص غوره كېږي.

يــاد مــى كــنم كــه وظــايف محولـــه را طبـــق احكـــام ايـــن قـــانون بـــا كمـــا ل صـــداقت، امانت دارى و حفظ منافع عليـــاى كشور انجام داده وخداوند(ج) را حين اجراى وظايف محوله حاضر و ناظر مى دانم.

**ميعاد خدمت**

**مادهٔ شانزدهم :**

(١) ميعاد خدمت اعضاى انتخابى بورد، چهار سال بـوده و بـراى يک دورهٔ ديگـــر تمديـــد شـــده مى تواند.

(٢) هـــر گـــاه عـــضو انتخـــابى بورد قبل از اكما ل دورهٔ خـــدمت فوت يا استعفا و يا به نحـــوى از انحاء وظايف محولـــه را انجـــام داده نتواند. در خلا ل مدت يـــک ماه طبق احكام اين قـــانون بـــراى مدت باقى مانده، شخص ديگـــرى به عوض وى انتخاب مى گردد.

## د بورډ دندې او واکونه

**اوولسمه ماده:**

(۱) بورډ د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د شکایت پربنسټ یا په خپل نوښت ددې قانون له اوومې څخه تر نهمې مادې پورې په درج شوي ممنوعیت په اړه د متشبث، سوداګر، مؤسسې او شرکت د فعالیتونو څېړل او په هکله یې ددې قانون د حکمونو مطابق، تصمیم نیول.

۲- د معافیت د غوښتنلیک، غیر واقعي بیانونو ارزول او د تفاهم، توافق او قراردادونو لپاره د معافیت د تصدیق لیک ورکول.

۳- ددې قانون له اوومې څخه تر نهمې مادې پورې په درج شوو حکمونو کې د درج شوو رقابتي ضد تګلارو د حقایقو تشخیصول.

۴- له اقتصادي فعالیتونو، مالونو او خدمتونو، دفترونو او سندونو څخه

## وظایف وصلاحیت های بورد

**مادۀ هفدهم:**

(۱) بورد دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- بررسی فعالیت های متشبث، تاجر، مؤسسه و شرکت در رابطه به ممنوعیت مندرج مواد هفتم الی نهم این قانون به اساس شکایت یا به ابتکار خود و اتخاذ تصمیم در زمینه طبق احکام این قانون .

۲- ارزیابی درخواست معافیت، اظهارات غیر واقعی واعطای تصدیقنامۀ معافیت برای تفاهم، توافق و قرارداد ها.

۳- تشخیص حقایق روش های ضد رقابتی مندرج احکام مواد هفتم الی نهم این قانون .

۴- اعطای جواز ورود به اماکن، ذخایر، گدام ها، وسایل

د څېړنې لپاره اماکنو، زېرمو، ګدامونو، دحمل او نقل وسایلو او دکانونو ته د واردېدو د جواز ورکول.

۵- له سوداګریزو شرکتونو او مؤسسو څخه د اړتیا وړ معلوماتو لاسته راوړل .

۶- ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور د مقررو د مسودې ترتیبول او د لایحو او کړنلارو وضع کول.

۷- د دمپینګ سیاست په وړاندې د کورنیو تولیداتو دودې زمېنې برابرول او له داخلي صنعت څخه ملاتړ.

(۲) بورډ کولی شي د رسېدلي شکایت د څېړلو لپاره په لاندې اقداماتو لاس پورې کړي:

۱- د هغهٔ شخص چې پرعلیه یې شکایت شوی او نورو اشخاصو چې حضور یې اړین ګڼل کېږي، احضارول.

حمل ونقل و دکاکین جهت بررسی ازفعالیت های اقتصادی، اموا ل وخدمات، دفاتر و اسناد .

۵- کسب معلومات مورد نیاز از شرکت ها و مؤسسات تجارتی .

۶- ترتیب مسودهٔ مقرره ها و وضع لوایح و طرزالعمل ها به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون.

۷- فراهم نمودن زمینهٔ رشد تولیدات داخلی و حمایت از صنعت داخلی در مقابل سیاست دمپینگ.

(۲) بورد می تواند، جهت بررسی شکایت واصله به اقدامات ذیل متوصل گردد:

۱- احضار شخصی که علیه وی شکایت صورت گرفته و سایر اشخاصی که حضور شان ضروری پنداشته می شود.

۲- د شاهدانو احضارول او د هغوی د شهادت اورېدل.

۳- د ليکلي او الکترونيکي په شمول په رقابتي ضد تګلارو پورې د اړوند رپوټ، مدارکو، سندونو او سوابقو د وړاندې کولو لپاره د حقيقي او حکمي اشخاصو احضارول.

۴- د کار پېژاندو او اهل خبره وو بلنه اود څېړنې په منظور د متخصصو اومجربو اشخاصو توظيفول.

۵- واکمنو مراجعو ته له واک څخه د بهر څېړنو د پايلو د ارجاع په هکله تصميم نيول.

**محدوديتونه**

**اتلسمه ماده:**

له رقابت څخه دملاتړ د اداري رئيس، غړي اونورکارکوونکي نشي کولی لاندې کړنې ترسره کړي:

۱- دهغو موضوعګانو د تصميم نيولو په غونډو کې چې د بورډ غړی

۲- احضار شهود واستماع شهادت آنها.

۳- احضار اشخاص حقيقی وحکمی جهت ارائه گزارش، مدارک،اسناد و سوابق مربوط با روش های ضد رقابتی اعم ازکتبی و الکترونيکی.

۴- دعوت کارشناسان واهل خبره وتوظيف اشخاص متخصص ومجرب به منظور بررسی.

۵- اتخاذ تصميم در بارۀ ارجاع نتايج بررسی های خارج از صلاحيت به مراجع ذيصلاح.

**محدوديت ها**

**مادۀ هجدهم:**

رئيس، اعضای بورد وساير کارکنان ادارۀ حمايت از رقابت نه می توانند اعمال ذيل را انجام دهند:

۱- اشتراک در جلسات تصميم گيری موضوعاتی که عضو

يا د ادارې کارکوونکی په هغو کې ذينفع وي، ګډون کول.

۲- د تصميم له نيولو د مخه ليکلی يا شفاهي اظهار نظر.

## د اسرارو ساتل

نولسمه ماده:

د بورډ رئيس او غړي نشي کولی، د دندې د اجراء يا پرېښودو په وخت کې د ادارې، متشبثينو، سوداګرو، مؤسسو او شـرکتونو سـوداګريز محرم اسرار د خپلو شخصي يـا د نورو د ګټو په منظور وکاروي يا يې افشاء کړي.

## د رقابتي ضد تګـلارو خنثـي کوونکي تصميمونه

شلمه ماده:

که چېرې بورډ د څېړنې له سـرته رسولو څخه وروسته تشخيص کړي چې متشبث، سوداګر، مؤسـسه او شرکت ددې قانون له اوومې څخه تر نهمې مادو کې درج شوې رقابتي

بـورد يـا کـارکن اداره در آن ذينفع باشد.

۲- اظهار نظر کتبی يا شفاهی قبل از اتخاذ تصميم.

## حفظ اسرار

مادۀ نزدهم:

رئيس و اعضای بورد نمی تواننـد حين اجرای وظيفـه يـاترک آن معلومات و اسرار محرم تجـارتی اداره، متشبثين، تجار، مؤسسات و شرکت ها را به منظـور منـافع شخصی خود يا ديگران بکار بـرد يا افشا نمايند.

## تصاميم خنثی کنندۀ روش های ضد رقابتی

مادۀ بيستم :

هرگاه بورد بعد از انجام بررسـی تـشخيص نمايدکـه متـشبث، تاجر، مؤسسه و شرکت روش های ضـد رقـابتی منـدرج مـواد هفـتم الـی نهـم ايـن قـانون

ضد تګلارې نقض کړي، کولی شي له احوالو سره سم له لاندې تصميمونو څخه يو يا زيات ونيسي:

۱- د هر ډول رقابتي ضد تګلارو د تکرار منع کول.

۲- د رقابتي ضد تګلارو له دوام څخه د موافقې د اړخونو منع کول.

۳- د متشبث، سوداګر، مؤسسې يا شرکت دپانګې يا ونډې مستردول چې ددې قانون په لسمه ماده کې د درج شوي حکم مغاير، ترلاسه شوې وي.

۴- د هر ډول ادغام تعليقول يا فسخ کول چې ددې قانون په يوولسمه ماده کې د درج شوي حکم مغاير يې صورت موندلی وي.

۵- واکمنې مرجع ته د هغو مالونو د ضبطولو يا مصادره کولو وړانديز چې د رقابتي ضد تګلارو له سرته رسېدو څخه لاسته راغلي وي.

۶- د قرارداد، موافقې يا تفاهم

را نقض نموده، می تواند حسب احوال يکی از تصاميم ذيل يا بيشتر از آن را اتخاذ نمايد:

۱- منع تکرار هرنوع روش های ضد رقابتی .

۲- منع طرفين توافق از ادامۀ روش های ضد رقابتی.

۳- استرداد سرمايه يا سهم متشبث، تاجر، مؤسسه يا شرکت که مغاير حکم مندرج مادۀ دهم اين قانون حاصل شده باشد.

۴- تعليق يا فسخ هر نوع ادغام که مغاير حکم مندرج مادۀ يازدهم اين قانون صورت گرفته باشد.

۵- پيشنهاد ضبط يا مصادرۀ اموالی که از انجام روش های ضد رقابتی بدست آمده باشد، به مرجع ذيصلاح.

۶- فسخ تفاهم، توافق يا

فسخ كول.

۷- په خاصو مواردو يا سيمو كې د متشبث، سوداګر، مؤسسې يا شركت د فعاليت منع كول.

۸- د مؤسسو يا شركتونو د اساسنامو يا د عمومي مجمع، د شركتونو دمديره هيئت د غونډو د تصميمونو د اصلاح په اړه د لارښوونې صادرول.

۹- د ټوليزو رسنيو له لارې د بورډ د تصميمونو او اقداماتو د پايلو خپرول.

## د شكايتونو څېړل

يوويشتمه ماده:

(۱) بورډ كولى شي پدې قانون كې درج شوې رقابتي ضد تګلارې، په خپل نوښت يا د حقيقي يا حكمي اشخاصو دمستندو او مستدلو شكايتونو پربنسټ وڅېړي او ددې قانون د حكمونو مطابق يې په هكله لازم تصميم ونيسي. د شكايت د رد په صورت كې شاكي كولى شي

قرارداد .

۷- منع فعاليت متشبث، تاجر، مؤسسه يا شركت در موارد يا مناطق خاص.

۸- صدور هدايت مبنى بر اصلاح اساسنامۀ مؤسسات يا شركت ها يا تصاميم جلسات مجمع عمومى، هيئت مديرۀ شركت ها.

۹- نشر تصاميم ونتايج اقدامات بورد از طريق رسانه هاى همگانى .

## بررسى شكايت

مادۀ بيست ويكم:

(۱) بورد مى تواند روش هاى ضد رقابتى مندرج اين قانون را به ابتكار خود يا بر اساس شكايت مستند و مستدل اشخاص حقيقى يا حكمى بررسى ومطابق احكام اين قانون تصميم لازم را در زمينه اتخاذ نمايد. درصورت رد شكايت شاكى مى تواند به محكمۀ

واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي.

(۲) بورډ مکلف دی د غوښتنليک د رسېدو له نېټې څخه زيات نه زيات د (۳۰) کاري ورځو په موده کې شکايت وڅېړي.

(۳) بورډ مکلف دی خپل تصميم د (۷) کاري ورځو مودې په ترڅ کې اړخونو ته ابلاغ کړي.

(۴) د سندونو او مدارکو د څېړنې او ثبت ډول په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

## د تصميمونو تطبيق

**دوه ويشتمه ماده:**

د بورډ تصميمونه له ابلاغ وروسته د تطبيق وړ دي. که چېرې له اړخونو څخه يو دبورډ په تصميمونو قناعت ونلري، کولی شي د تصميم د نيولو له نېټې څخه د (۷) کاري ورځو مودې په ترڅ کې واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي.

ذيصلاح مراجعه نمايد.

(۲) بورد مکلف است، از تاريخ وصول درخواست در خلال مدت حد اکثر (۳۰) روز کاری شکايت را بررسی نمايد.

(۳) بورد مکلف است تصميم خويش را درخلا ل مدت (۷) روز کاری به طرفين ابلاغ نمايد .

(۴) طرز بررسی وثبت اسناد ومدارک در طرزالعمل جداگانه تنظيم می گردد.

## تطبيق تصاميم

**مادۀ بيست ودوم:**

تصاميم بورد بعد از ابلاغ قابل تطبيق می باشد. هرگاه يکی از طرفين به تصاميم بورد قناعت نداشته باشد، می تواند از تاريخ اتخاذ تصميم در خلا ل مدت (۷) روز کاری به محکمۀ ذيصلاح مراجعه نمايد.

## د بورډ موقف

**درویشتمه ماده:**

بورډ کولی شي له عامه ګټو څخه د دفاع او وارد شوي زیان دجبران د غوښتنې په منظور،دقانون دحکمونو مطابق واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي.

## څلورم فصل

## مؤیدې

### د زیان جبران

**څلېریشتمه ماده:**

(۱) حقیقي اشخاص چې پدې قانون کې د درج شوو رقابتي ضد تګلارو د اعمال په پایله کې زیانمن شي کولی شي د زیان د جبران د غوښتنې په منظور، واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي.

(۲) که چېرې د زیان د جبران اندازه د سندونو او مدارکو له مخې تثبیت نشي، اندازه یې د تېر کال د بیلانس له مخې تثبیت او سنجول کېږي.

## موقف بورد

**مادۀ بیست وسوم:**

بورد می تواند، به منظور دفاع از منافع عامه و مطالبۀ جبران خسارۀ وارده طبق احکام قانون به محکمۀ ذیصلاح مراجعه نماید .

## فصل چهارم

## مؤیدات

### جبران خساره

**مادۀ بیست وچهارم:**

(۱) اشخاص حقیقی که در نتیجۀ اعمال روش های ضد رقابتی مندرج احکام این قانون متضرر گردند، می توانند به منظور مطالبۀ جبران خساره، به محکمۀ ذیصلاح مراجعه نمایند.

(۲) هرگاه اندازۀ جبران خساره برویت اسناد ومدارک تثبیت شده نتواند، اندازۀ آن برویت بیلانس سال ما قبل تثبیت وسنجش می گردد.

(۳) که چېرې د اړخونو له موافقو څخــــه راپيـــــدا وارد شــــوی زيـــان پـــه عمـــدي توګـــه وي، ســــــرغړوونکی د اووښـــــتي زيان د جبران په دوه چنده ورکولو مکلف دی.

**جريمه**

**پنځه ويشتمه ماده:**

که چېرې متـــشبثين، ســـوداګران، مؤسسې او شرکتونه ددې قانون د اوومې مادې د درج شوو اعمـــالو مرتکب شي، له احوالو سره سم په لاندې توګه تأديب کېږي:

۱- ددې قانون د اوومې مادې پـــه (۱) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغـــدي جريمه چې له سلو زرو څخه لږ او له دوه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۲- ددې قانون د اوومې مادې پـــه (۲) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغـــدي

(۳) هرگـــــاه خـــــسارهٔ وارده ناشـــــی از توافقـــات طـــرفين طور عمـــدی باشـــد، متخلـــف مکلـــف بـــه پرداخـــت دوچنـــد جبـــــــران خـــــــساره وارده می باشد.

**جريمه**

**مادهٔ بيست وپنجم:**

هرگاه متشبثين ، تجار، مؤسسات وشرکت ها مرتکب اعمال مندرج مادهٔ هفتم ايـــن قـــانون گردنـــد، حسب احـــــوال ذيـــلاً تأديـــب می گردد:

۱- درصورت ارتکـــاب اعمـــا ل مندرج جزء (۱) مادهٔ هفتم ايـــن قانون، به جريمهٔ نقـــدی کـــه از يکـــــصد هـــــزار کمتـــــر واز دو صـــد هـــزار افغـــانی بيـــشتر نباشد.

۲- درصورت ارتـــکاب اعمـــا ل مندرج جـــزء (۲) مـــادهٔ هفـــتم اين قـــانون، بـــه جريمـــهٔ نقـــدی

جريمه چې له دوو ميليونو څخه لږ او له دوه ميليونو او پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۳–ددې قانون داوومې مادې پـه (۳ او۴)جزءکې ددرج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له دوه سوه پنځو سـو زرو افغانيو څخه لږ او له درې سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۴– ددې قانون د اوومې مادې پـه (۵) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغـدي جريمه چې له پنځو سو زرو افغانيو څخه لږ او له سلو زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۵– ددې قانون د اوومې مادې پـه (٦) جزء کې د در ج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له يو ميليون افغانيو څخه لږ او له يوميليون او پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

٦– ددې قانون د اوومې مادې پـه

که از دو ميليون کمتـــر و از دو ميليون و پنجصد هـــزار افغـــانی بيشتر نباشد.

۳– درصورت ارتکـــاب اعمـــا ل مندرج اجزای (۳ و۴) مادۀ هفتم اين قـــانون، بـــه جريمـــۀ نقـــدی که از دو صد وپنجاه هزار افغـــانی کمتر و از سه صد هـــزار افغـــانی بيشتر نباشد.

۴– درصورت ارتکاب اعمـــا ل مندرج جـــزء (۵) مـــادۀ هفـــتم اين قـــانون، بـــه جريمـــۀ نقـــدی کـــه از پنجـــاه هـــزار افغـــانی کمتر و از يک صد هزار افغـــانی بيشتر نباشد.

۵– درصورت ارتکـــاب اعمـــا ل مندرج جزء (٦) مادۀ هفتم ايـــن قانون، به جريمۀ نقـــدی کـــه از يک ميليون افغـــانی کمتـــر و از يک ميليون پنجصد هزار افغـــانی بيشتر نباشد.

٦– درصورت ارتکـــاب اعمـــا ل

(۷) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغـــدي جریمه چې له دوه سوه زرو افغانیو څخه لږ او له دوه سوه پنځو ســـو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي.

۷- ددې قانون د اوومې مادې پـــه (۸) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغـــدي جریمه چې له پنځه سوه زرو افغانیو څخه لږ او له یو میلیون افغانیو څخه زیاته نه وي.

۸- ددې قانون د اوومې مادې پـــه (۹) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغـــدي جریمه چې له یو میلیون افغانیو څخه لږ او له یو میلیون او پنځه سوه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي.

۹- ددې قانون د اوومې مادې پـــه (۱۰) جزء کې د در ج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جریمه چې له یو میلیون او پنځـــه سوه زره افغانیو څخه لږ او له دوه

مندرج جـــزء (۷) مـــادۀ هفـــتم این قـــانون، بـــه جریمـــۀ نقـــدی کـــه ازدوصـــد هـــزار افغـــانی کمتر و از دو صـــدوپنجاه هـــزار افغانی بیشتر نباشد.

۷- درصورت ارتکـــاب اعمـــا ل مندرج جـــزء (۸) مـــادۀ هفـــتم این قـــانون، بـــه جریمـــۀ نقـــدی کـــه از پنجـــصد هـــزار افغـــانی کمتر و از یک میلیـــون افغـــانی بیشتر نباشد.

۸- درصورت ارتکـــاب اعمـــا ل مندرج جـــزء (۹) مـــادۀ هفـــتم این قـــانون، بـــه جریمـــۀ نقـــدی که ازیک میلیون افغـــانی کمتـــر و از یک میلیون و پنجصد هـــزار افغانی بیشتر نباشد.

۹- درصورت ارتکـــاب اعمـــا ل مندرج جزء (۱۰) مـــادۀ هفـــتم این قـــانون، بـــه جریمـــۀ نقـــدی که از یک میلیون وپنجصد هـــزار افغانی کمتر و از دو میلیون افغانی

میلیونو افغانیو څخه زیاته نه وي.

۱۰- ددې قانون د اوومې مادې په (۱۱) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جریمه چې له یو میلیون افغانیو څخه لږ او له یو میلیون او پنځه سوو زرو افغانیو څخه زیات نه وي.

جریمه

شپږ ویشتمه ماده:

که چېرې متشبثین، سوداګران، مؤسسې یا شرکتونه ددې قانون په اتمه ماده کې د درج شوو اعمالو مرتکب شي، له احوالو سره سم په لاندې توګه تأدیبېږي:

۱- ددې قانون داتمې مادې په (۱ او ۴) اجزاوو کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جریمه چې له پنځه میلیونو افغانیو څخه لږ او له پنځه میلیونو او پنځه سوه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي.

۲- ددې قانون د اتمې مادې په

بیشتر نباشد.

۱۰- درصورت ارتکاب اعمال مندرج جز (۱۱) مادهٔ هفتم این قانون به جریمهٔ نقدی که از یک میلیون افغانی کمتر و از یک میلیون و پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد.

جریمه

مادهٔ بیست وششم:

هرگاه متشبثین ، تجار، مؤسسات یا شرکت ها مرتکب اعمال مندرج مادهٔ هشتم این قانون گردند، حسب احوال، ذیلاً تأدیب می گردد:

۱- درصورت ارتکاب اعمال مندرج اجزای (۱و۴) مادهٔ هشتم این قانون، به جریمهٔ نقدی که از پنج میلیون افغانی کمتر و از پنج میلیون پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد.

۲- درصورت ارتکاب اعمال

(۲، ۳، ۵ او ۱۰) اجزاوو کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له يوميليون افغانيو څخه لږ او له يو ميليون او پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۳- ددې قانون داتمې مادې په (٦) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له څلور سوه زره افغانيو څخه لږ او له پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۴- ددې قانون د اتمې مادې په (۷) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له درې سوه زره افغانيو څخه لږ او له پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۵- ددې قانون داتمې مادې په (۸) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له دوه سوه پنځوس زرو

مندرج اجزای (۲، ۳، ۵ و۱۰) مادۀ هشتم این قانون، به جريمۀ نقدی که از یک میلیون افغانی کمتر و از یک میلیون و پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد.

۳- درصورت ارتکاب اعمال مندرج جزء (٦) مادۀ هشتم این قانون، به جريمۀ نقدی که از چهار صد هزار افغانی کمتر و از پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد.

۴- درصورت ارتکاب اعمال مندرج جزء (۷) مادۀ هشتم این قانون، به جريمۀ نقدی که از سه صد هزار افغانی کمتر و از پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد.

۵- درصورت ارتکاب اعمال مندرج جزء (۸) مادۀ هشتم این قانون، به جريمۀ نقدی که از

افغانيو څخه لږ او له درې سوه پنځوسو زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

٦- ددې قانون د اتمې مادې په (٩) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له دوه ميليونه او پنځه سوه زرو افغانيو څخه لږ او له درې ميليونه افغانيو څخه زياته نه وي.

٧- ددې قانون داتمې مادې په (١١) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له يو ميليون افغانيو څخه لږ او له درې ميليونه او پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

٨- ددې قانون داتمې مادې په (١٢) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، هر يو په نغدي جريمه چې له پنځه سوه زرو افغانيو څخه لږ او له دوه ميليونو افغانيو څخه زياته نه وي.

٩- ددې قانون د اتمې مادې په

دو صد وپنجاه هزار افغانی کمتر و از سه صد وپنجاه هزار افغانی بیشتر نباشد.

٦- درصورت ارتکاب اعما ل مندرج جزء (٩) مادۀ هشتم این قانون به جریمۀ نقدی که از دو میلیون و پنجصد هزار افغانی کمتر و از سه میلیون افغانی بیشتر نباشد.

٧- درصورت ارتکاب اعما ل مندرج جزء (١١) مادۀ هشتم این قانون، به جریمۀ نقدی که ازیک میلیون افغانی کمتر و از سه میلیون و پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد.

٨-درصورت ارتکاب اعما ل مندرج جزء(١٢) مادۀ هشتم این قانون هر یک به جریمۀ نقدی که از پنجصدهزار افغانی کمتر و از دومیلیون افغانی بیشتر نباشد.

٩- درصورت ارتکاب اعما ل

(۱۳) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له دوه ميليونو افغـانيو څخه لږ او له دوه ميليونو او پنځـه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

۱۰- ددې قانون د اتمې مادې پـه (۱۴) جزء کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په صورت کې، په نغدي جريمه چې له پنځه سوه زرو افغانيو څخه لږ او له شپږ سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي.

## د غير واقعي ويناوو جريمه

اووه ويشتمه ماده:

(۱) متشبث، سوداګر، مؤسسه، شرکتونه او نور حقيقي او حکمـي اشخاص، د لاندې مواردو له يـوۀ څخه د سرغړونې په صورت کې له احوالو سره سم په نغدي جريمه چې له پنځو سو زرو افغانيو څخه لږ او له پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي، تأديبيږي:

۱- د رقابتي ضد تګلارو د څېړنې

مندرج جزء (۱۳) مادۀ هشتم این قانون، به جريمه نقـدی کـه از دو ميليـون افغـانی کمتـر و از دو ميليون وپنجصد هزار افغانی بيشتر نباشد.

۱۰- درصورت ارتكاب اعمـا ل مندرج جزء (۱۴) مـادۀ هـشتم اين قـانون، بـه جريمـۀ نقـدی کـه از پنجـصد هـزار افغـانی کمتر و از ششصد هـزار افغـانی بيشتر نباشد.

## جريمۀ اظهارات غير واقعی

مادۀ بيست وهفتم:

(۱) متشبث، تـاجر، مؤسـسه، شرکت ها وساير اشخاص حقيقی يا حکمی در صورت تخلف يکی از موارد ذيل، حسب احـوال بـه جريمۀ نقدی که از پنجـاه هـزار افغانی کمتر واز پنجـصد هـزار افغانی بيـشتر نباشـد، تأديـب می گردد:

۱- درصورت بيـان اظهـارات

په وخت کې د واقعیت خلاف وینااوو دبیان په صورت کې چې د بورډ په تصمیمونو کې اغېزمن واقع شوي وي.

۲- د واقعیتونو له بیانولو څخه د ډډې کولو په صورت کې چې د بورډ په تصمیمونو کې اغېزمن واقع شوي وي.

(۲) که چېرې متشبث، سوداګر، مؤسسه او شرکتونه تزویري یا د واقعیت خلاف سندونه او مدارک بورډ ته وړاندې یا په رقابتي ضد تګلارو پورې اړوندو معلوماتو، سندونو او مدارکو ته تغییر ورکړي، تحریف یا یې محو کړي وي، ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوې نغدي جریمې برسېره په هغه حبس چې له شپږومیاشتو څخه لږ او له یو کال او شپږو میاشتو څخه زیات نه وي د واکمنې محکمې لخوا محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱ او

خلاف واقعیت حین بررسی روش های ضد رقابتی که در تصامیم بورد مؤثر واقع شده باشد.

۲- درصورت خود داری از بیان واقعیت ها که در تصامیم بورد مؤثر واقع شده باشد.

(۲) هرگاه متشبث، تاجر، مؤسسه وشرکت ها اسناد ومدارک تزویری یا خلاف واقعیت را به بورد ارائه یا معلومات، اسناد و مدارک مربوط به روش های ضد رقابتی را تغییر، تحریف یا محو نموده باشد، علاوه بر جریمۀ نقدی مندرج فقرۀ (۱) این ماده از طرف محکمۀ ذیصلاح به حبسی که از شش ماه کمتر و از یک سال وشش ماه بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه اعمال مندرج فقره های

۲) فقرو کې در ج شوي اعمال له بورډ څخه دتصديق ليک په اخيستلو تمام شي، واکمنه محکمه کولی شي د ذينفع د غوښتنې پربنسټ، ددې مادې په اړکل کړې جزاء برسېره د بورډ د تصميم د اصلاح يا فسخ حکم صادر کړي.

## دکاذب شاهد عدلي تعقيب

اته ويشتمه ماده:

(۱)که چېرې شاهد، کارپېژاند، اهل خبره يا نور اشخاص عمداً د واقعيت خلاف شهادت ورکړي يا نظر وړاندې کړي چې د بورډ په تصميم کې اغېزمن واقع شي، موضوع د عدلي تعقيب په غرض واکمني محکمې ته سپارل کېږي.

(۲) که چېرې شخص د متشبث، سوداګر، مؤسسې اوشرکتونو يا يې درئيسانو سوداګريز اوحرفوي اعتبار ته د زيان رسولو په نيت د واقعيت

(۱ و ۲) اين ماده منجر به اخذ تصديقنامه از بورد شده باشد، محکمۀ ذيصلاح می تواند با اساس تقاضای ذينفع علاوه بر جزای پيشبينی شدۀ اين ماده به اصلاح يا فسخ تصميم بورد حکم صادر نمايد.

## تعقيب عدلی شاهد کاذب

مادۀ بيست وهشتم:

(۱) هرگاه شاهد، کارشناس، اهل خبره يا ساير اشخاص عمداً خلاف واقعيت شهادت يا اظهار نظر نمايند که در تصميم بورد مؤثر واقع گردد، موضوع غرض تعقيب عدلی به محکمۀ ذيصلاح محول می شود .

(۲) هرگاه شخص به قصد صدمه رساندن به اعتبار تجاری و حرفوی متشبث، تاجر، مؤسسه، شرکت ها يا رؤسای آن شکايت

خلاف شکايت په ليکلي توګه بورډ يا واکمنې محکمې تــه وړانــدې کړي، د زيان د جبران په ورکــړې برسېره په نغدي جريمه چې له سلو زرو افغانيو څخه لږ او له شپږ سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي يا پــه متوسط حبس چې له دووکلونوڅخه زيات نه وي، محکومېږي.

## داطلاعاتو دافشاءکولو مجازات

### نهه ويشمه ماده:

که چېرې له رقابت څخه د ملاتــړ د ادارې رئيس،دبورډ غــړي اونــور کــارکوونکي دمتــشبث،سوداګر، مؤسسې، شرکتونو يانورواشخاصــو کورني اطلاعات خپارهٔ، افشاء يــا د ځان يانورو اشخاصو په ګټه ورڅخه استفاده وکړي، له احوالو سره سم په نغدي جريمه چې له سلو زرو افغانيو څخه لږ اوله شپږ سوه زرو افغــانيو څخه زياته نه وي يا په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه زيات نه وي، دواکمنې محکمې لخوا محکومېږي.

خلاف واقعيت را طور کتبــی بــه بورد يا محکمهٔ ذيصلاح ارائه نمايد علاوه به پرداخت جبران خــساره به جريمهٔ نقدی که از يکصد هزار افغانی کمتر و ازششــصد هــزار افغانی بيشتر نباشد يا بــه حــبس متوسط که از دو سال بيشتر نباشد، محکوم می گردد.

## مجازات افشای اطلاعات

### مادهٔ بيست ونهم:

هرگاه رئيس، اعضای بورد وساير کارکنان ادارهٔ حمايت از رقابــت اطلاعات داخلی متشبث، تــاجر، مؤسسه، شرکت ها، وسايراشخاص را نشر، افشاء يا به نفع خود يــا ساير اشخاص بهره برداری نمايد ، حسب احوال به پرداخت جريمــهٔ نقدی که از يکصد هزار افغــانی کمتر و از ششصد هــزار افغــانی بيشتر نباشد يا به حبس متوسط که از دو سال بيشتر نباشد از طــرف محکمهٔ ذيصلاح محکوم می گردد.

**د ناوړه ګټه اخيستنې مجازات**

**دېرشمه ماده:**

که چېرې له رقابت څخه د ملاتړ د اداري رئيس،دبورډ غړي او کارکوونکي دحقيقي ياحکمي اشخاصوملي ګټو ياسوداګريز او حرفوي اعتبار ته د زيان رسولو لپاره لدې قانون څخه ناوړه ګټه واخلي دزيان دجبران په ورکړې برسېره په نغدي جريمه چې له يو ميليون افغانيو څخه لږ او له يو ميليون او پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي يا په متوسط حبس چې له دريو کلونو څخه زيات نه وي، د واکمنې محکمې لخوا محکومېږي.

**د قضيو څېړل**

**يو دېرشمه ماده:**

له رقابت څخه د ملاتړ د جرمونو د قضيو څېړل د قانون د حکمونو مطابق په بيړنۍ توګه اود نوبت له په

**مجازات سؤ استفاده**

**مادهٔ سی ام:**

هرگاه رئيس، اعضای بورد و کارکنان ادارهٔ حمايت از رقابت جهت صدمه رساندن به منافع ملی يا اعتبار تجاری وحرفوی اشخاص حقيقی يا حکمی از اين قانون سوء استفاده نمايد، علاوه بر پرداخت جبران خساره به جريمهٔ نقدی که از يک ميليون افغانی کمتر و از يک ميليون و پنجصد هزار افغانی بيشتر نباشد يا به حبس متوسط که از سه سال بيشتر نباشد، از طرف محکمهٔ ذيصلاح محکوم می گردد.

**رسيدگی قضايا**

**مادهٔ سی ويکم:**

رسيدگی قضايای جرايم حمايت از رقابت طبق احکام قانون طور عاجل و بدون رعايت نوبت

پام کې نيولو پرته، صورت مومي.

<u>د پيسو تحويلول</u>

**دوه دېرشمه ماده:**

ددې فصل په حکمونو کې درج شوي مبالغ د بورډ په واسطه تحصيل او د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحويلېږي.

## پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

<u>احتکار شوي مالونه</u>

**درې دېرشمه ماده:**

که چېرې له رقابت څخه د ملاتړ اداره تشخيص کړي چې په بازار کې منځته راغلی حالت له احتکار څخه راپيدا شوی دی، پدې صورت کې موضوع (داحتکار پرعليه د مبارزې کمېسيون) ته محولوي.

<u>د مقررو وضع کول</u>

**څلور دېرشمه ماده:**

دسوداګرۍ اوصنايعو وزارت کولی شي، ددې قانون دحکمونو د ښه تطبيق په

صورت می گيرد.

<u>تحويلی پول</u>

**مادۀ سی ودوم:**

مبالغ مندرج احکام اين فصل از طرف بورد تحصيل و به حساب واردات دولت تحويل بانک می گردد.

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

<u>اموال احتکار شده</u>

**مادۀ سی وسوم:**

هرگاه ادارۀ حمايت از رقابت تشخيص نمايد که در بازار حالت بوجود آمده که ناشی از احتکار باشد، در اينصورت موضوع را به (کميسيون مبارزه عليه احتکار) محول می نمايد .

<u>وضع مقرره ها</u>

**مادۀ سی وچهارم:**

وزارت تجارت وصنايع می تواند، به منظور تطبيق بهتر احکام اين قانون،

**منظور، مقررې له پړاوونو څخه تېرې اولايحې اوکړنلارې ترتيب او وضع کړي.**

**انفاذ**

**پنځه دېرشمه ماده:**

**دغه قانون دتوشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې خپرېږي اوپه نافذېدو سره يې مغايرحکمونه لغو ګڼل کېږي.**

**مقرره ها را طی مراحل و لوایح وطرزالعمل ها را ترتیب و وضع نماید.**

**انفاذ**

**مادۀ سی وپنجم:**

**این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریده رسمی نشر می گردد وبا انفاذ آن، احکام مغایر ملغی شمرده می شود.**

## دځمکې داستملاک د قانون د ديارلسمې مادې په تعديل کې د (۲) فقــرې د ايـــزاد د توشېح په هکله دافغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه : (۳۱)
نېټه : ۱۳۸۸/۱۱/۵

لومړۍ ماده :
دافغانستان داساسي قانون دڅلــور شپيتمې مــادې د(۱٦) فقــرې او سلمې مادې دحکم له مخې دځمکې داستملاک دقــانون د ديارلــسمې مادې په تعديل کې د (۲) فقــرې ايزاد چې دملي شوري دمجلسونو د ګډ هيئت د۱۳۸۸/۹/۱۲ نېټــې د (۱۵۲) ګڼې مــصوبې پربنــسټ تصويب شوی دی، توشېح کوم.

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح ايزاد فقرهٔ (۲) درتعديل مادهٔ سيزدهم قانون استملاک زمين

شماره : (۳۱)
تاريخ : ۱۳۸۸/۱۱/۵

مادهٔ اول :
به تأسی ازحکم فقــرهٔ (۱٦) مــادهٔ شــصت وچهــارم ومــادهٔ صــدم قانون اساسی افغانــستان ، ايــزاد فقرهٔ (۲) درتعديل مــادهٔ ســيزدهم قانون استملاک زمين را که بر اساس مــصوبهٔ شــماره (۱۵۲) مــؤرخ ۱۳۸۸/۹/۱۲ هيئــت مخـــتلط مجلسين شــورای ملــی تــصويب گرديده، توشيح می دارم.

**دوه یمه ماده :**

**دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ اوله ایــزاد او دملــي شــوري د مجلسونو دګډهیئت له مصوبې سره یوځای دې،په رسمي جریده کــې خپورشي.**

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**مادهٔ دوم :**

**این فرمان از تاریخ توشــیح نافــذ وهمـــراه بـــا ایـــزاد ومـــصوبهٔ هیئت مختلط مجلــسین شــورای ملـــی درجریـــدهٔ رســـمی نـــشر گردد.**

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

دافغانستان اسلامي

جمهوريت ملي شوري

مصوبه

دځمکې داستملاک د قانون د

ديارلسمې مادې په تعديل کې د

دويمې فقرې ايزاد

پرله پسې گڼه : (۱۵۲)

دتصويب نېټه :۱۳۸۸/۹/۱۲

د افغانستان داساسی قانون دسلمې مادې له حکم سره سم، دملي شوري ددواړو غونډو له پنځوپنځو غړو څخه جوړ شوی گډ هيئت دځمکې داستملاک قانون د ديارلسمې مادې په تعديل کې د دويمې فقرې ايزاد د ۱۳۸۸ کال د ليندۍ د مياشتې په دوولسمه نېټه فيصله کړ.

د گډ هيئت رئيس

انجنير محمدخان

د گډ هيئت مرستيال

قاضی سعدالله ابوامان

شورای ملی جمهوری اسلامی

افغانستان

مصوبه

ايزاد فقرۀ دوم درتعديل

مادۀ سيزدهم قانون استملاک

زمين

شمارۀ مسلسل : (۱۵۲)

تاريخ تصويب : ۱۳۸۸/۹/۱۲

به تأسی ازحکم مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی مرکب از پنج پنج نفراز اعضای هرجرگه ايزاد فقرۀ دوم درتعديل مادۀ سيزدهم قانون استملاک زمين را به تاريخ دوازدهم ماه قوس سال ۱۳۸۸ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

انجنير محمدخان

معاون هيئت مختلط

قاضی سعدالله ابوامان

## د ۱۳۸۴/۲/۳۱ نېټې په (۸۴۹) ګڼه رسمي جريده کې خپورشوی د ځمکې د استملاک د قانون د ديارلسمې مادې په تعديل کې د دويمې فقرې ايزاد

لومړۍ ماده:

په ديارلسمه ماده کې درج شوی متن دې د (۱)فقرې په توګه اولاندې متن دې دهغې د(۲)فقرې په توګه ايزاد شي:

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې ځمکې دساحو اوهغې ځمکې يا کورونو دنورو ساحو چې ترښاري پلانونو لاندې (منظور شوي تفصيلي پلانونه) راځي، په برخوباندې وېشل، د هغو د هبه يا پيراوپلور په منظور جواز نلري.

دوه يمه ماده :

دغه ايزاد دتوشيح له نېټې څخه نافذ اوپه رسمي جريده کې دې خپور شي.

## ايزاد فقرۀ (۲) در تعديل مادۀ سيزدهم قانون استملاک زمين منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۸۴۹) مؤرخ ۱۳۸۴/۲/۳۱

مادۀ اول:

متن مندرج تعديل مادۀ سيزدهم به حيث فقرۀ (۱) ومتن ذيل به حيث فقرۀ (۲) آن ايزاد گردد:

(۲) تقسيم به حصص ساحات زمين مندرج فقرۀ (۱) اين ماده وساير ساحات زمين يا خانه های که تحت پلان های شهری (پلان های تفصيلی منظورشده) قرار می گيرد، به منظور هبه يا خريد وفروش آن جواز ندارد.

مادۀ دوم :

اين ايزاد از تاريخ توشيح نافذ و درجريدۀ رسمی نشر گردد.